ډاکتر عبدالرحمن زماني ۲۰۱۳/۰۶/۰۲

# په آزاد سرحد کې د مومندو مبارزې

(شپږمه برخه)

## په قبایلي سیمو اومومندو کې د هندوستان دوسلوالو مسلمانانوحرکت او مرکزونه

په آزاد سرحد کې د انګریزانو په مقابل کې دهندوستان د مسلمانانو دوو وسلوالو ډلو فعالیت درلود چې یوه ډله یې د"بُنِیر" په سمڅه (Smatsa) یا اسموس (Asmas) کې دجماعت مجاهدین په مرکز او بله یې دمومندوځنګ ته د چمرکنډ په مرکز کې راټول شوي وو .

### دسمڅې د مجاهدینو مرکز

دسمڅې د مرکز بنسټ اینبودونکي دمولانا ولایت علي او مولانا عنایت علي په نامه دوه ورونه وو(۱). د ۱۹۱۵ کال د فبروري دمیاشتې په یوولسمه ( ۱۱) نیټه ددې ډلې د رئیس مولوي عبدالکریم د مرګ نه وروسته دهغه ځوان وراره مولوي نعمت الله ددې ډلې مشري ترلاسه کړه. که څه هم دا مرکز دڅو تنو لخوا دهندوستان دآزادی دپاره دیوه نظامي تشکیل په توګه جوړ شوي وو، خو دا ډله د نړی د پرمختګونو او زماني د چلند څخه په بشپړه توګه نا خبره پاتې او په یوه داسي طفیلي او بیکاره ډلې بدله شوي وه چې د هندوستان د مسلمانانو بسپنو او دافغانستان دحکومت تنخوا ته یې اړولې او شپې سبا کولې.

دانګریزانو سره دسمڅې د مرکز د رئیس مولوي نعمت الله ارتباطات او دخیبر د ایجنسی د پولیټیکل ایجنټ صاحب زاده عبدالقیوم خان سره د هغې معامله د انګریزي استخباراتو د پټو اسنادو څخه ثابته شویده (۲). نعمت الله دیوه بل هندوستاني مسلمان عبدالرشیدلخوا هغه وخت ووژل شو کله چې دده د منافقت څخه په تنګ شو او دانګریزانو سره د هغه په اړیکو شکمن شو. خو بیا د نعمت الله ساتونکو عبدالرشید په داسي حال کې چې زخمي وو، ژوندي تنور ته غورځولې او وسوځاوه.

ددې مرکز څخه پنځوس تنه چې ډیر کسان یې د پنجاب وو، دافغانستان د خپلواکی دجګړې په درشل کې هغه وخت د مولوي نعمت الله د سپکاوي نه وروسته چمرکنډ ته تللي وو، کله چې هغه د مرکز مجاهدین دانګریزانو سره دجګړې څخه منع کړي وو.

### دچمرکنډ د مجاهدینو مرکز

دچمرکنډ دمجاهدینو مرکز د مومندو سیمې سره نژدې دچمرکنډ په نامه یوه کوچني سرحدي کلي کې دمولوي بشیر لخوا جوړ شوې وو. دمولوي بشیر اصلي نوم عبدالرحیم وو. هغه په ۱۸۸۵م کال کې د پنجاب په فیروزپور کې زیږیدلې او په ۱۹۱۵م کال کې د قبایلي سیمو د مجاهدینو مرکز ته لاړ او په ځان یې د محمد بشیر نوم کیښود.

مولوي بشیر په چمرکنډ کې د مجاهدینو مرکز ته نوی روحیه ورکړه او د خپل شهرت په وجه د امیرحبیب الله خان په دربار کې داعتبار خاوند شو او وخت په وخت به یې د کابل څخه لیدنه کوله. مولوي بشیر د چمرکنډ د مرکز دجنګیالیو د نظامي تربیت د پاره د بریتانوي هند د حکومت دوه پخواني عسکر هم قبایلي سیمې ته بوتلل . هغه وروسته په کابل کې د هند د جلاوطنه حکومت د دفاع د وزیر په توګه هم وټاکل شو. مولوي بشیر هم د ۱۹۳٤م کال د اکتوبر په میاشت کې دشپې لخوا دهمدې مرکز دیوه پلورل شوي مجاهد په لاس ووژل شو.

### دالمجاهد اخبار خپرول

"المجاهد" یو معروفه اخبار وو چې د چمرکنډ د مجاهدینود مرکز لخوا خپریده، او د بریتانیې په خلاف مواد او خبرونه به په کښې چاپیدل(۳). دې اخبار په لومړي ځل د ۱۹۲۲ کال د اکتوبر په میاشت کښې په دري (فارسي) او اردو ژبو د محمد یاسین په مدیریت د مولوي محمد بشیر(٤) تر لاربنوني لاندې په نشراتو پیل وکړ، او وروسته یې په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

پښتو ژبه هم نشرات کول. محمد یاسین وروسته د چمرکنډ د مرکز د نشراتو د جرګې مشر شو. دالمجاهد خپرونه به په قبایلي سیمو سربیره په بریتانوي هند کې هم خپریده.

لکه څنګه چې په بریتانوي هند کې د خپل وخت دانګریزي استعمار مخالفه مشهورو خپرونو لکه د لاهور "زمیندار(٥)، کامرید(٦)، الهلال(٧)، همدرد،ترجمان او ځینو نورو دسراج الاخبار د مطالبو څخه استفاده کوله ، همدا شان به په چمرکنډ کې خپریدونکي المجاهد هم د افغانستان د "امان افغان" دجریدې مقالي او مطالب نقلول او په خپرېدو هیوادونو کې به یې د انګریزانو په سیاست باندې سختې نیوکې کولې. پدې خپرونه کې به دهندوستان د مسلمانانو څخه غوښتنه کیده چې دنګریزانو سره په وسلواله مبارزه کې برخه واخلي. انګریزي چارواکي په المجاهد کې خپریدونکو علمي مقالو او تازه معلوماتو ته حیران وو او غوښتل یې پوه شي چې مولوي بشیر دبین المللي اهمیت لرونکي دغه مطالب له کومه ځایه لاس ته راوړي. دهغه وخت د انګریزي استخباراتي رپوټونو څخه څرګندیږي چې انګریزانو دالمجاهد د خپریدو په مخنیوي کې زیار ویسته او په وزیرستان او نورو سیمو کې یې د هغې ګڼ شمیر ګڼې لاس ته راوړي او له منځه وړي دي .

دالمجاهد خپرونه د رونیو Roneo دکاپي کولو په هغه یوه ماشین برابریده چې مولوي بشیر د کابل څخه راوړی ؤ(٨). دې ماشین سره به په یوه وخت ٢٦ پاکې کاپیانې جوړیدې .

دالمجاهد د خپروني په هکله د"سرګذشت مجاهدعبدالکریم چمرکنډي" (٩) په کتاب کې ادعا شوې چې مولانا بشیر د کابل څخه د اخبار د چاپولو دپاره چې د سیکلو سټائیل په ماشین به چاپیده، دکاغذونو دراوړلو سره سم د هغې د خپرولو تیارې پیل کړ او د اخبار د کتابت، چاپولو، لیږدولو او نورو چارو مسئولیت یې عبدلکریم ته وسپاره، خو د اخبار په تندي یې د مدیر په حیث د تبلیغاتو د شعبې د ناظم مولوي یاسین نوم ولیکه. هغه زیاتوي چې دا اخبار به غازي امان الله خان او د افغانستان ټولو وزیرانو، اعلی حاکمانو، د اردو عالیرتبه منصبدارانو او د تعلیم او روغتیا د ادارو دچارواکو په ګډون ټولو مشهورو شخصیتونو، خانانو، ملکانو اومُلایانو ته استول کیده.

دالمجاهد اخبار به دبهرنی نړی مشرانو لکه د ایران رضا شاه، د ترکیې مصطفی کمال اتاترک او د شوروي اتحاد لنین او په افغانستان کې د میشتو سفارتونو او افغاني سفارتونو په معرفت بهرنیو هیوادو ته هم استول کیده . په بریتانوي هند کې به دا اخبار پرته له کوم مذهبي توپیره ټولو سیاسي مشرانو په خاصه توګه د کانګرس، خلافت او مسلم لیګ مشرانو ته استول کیده. په افغانستان کې دننه ددې اخبار پُسته آزاده او په وړیا توګه به استول کیده. دهندوستان دپاره به د پُستي (ډاګ) ټکټونه راغوښتل کیدل او بیا به په اخبار د لګولو څخه وروسته د پیښور، راولپنډۍ او نورو ښارونو د خطونو (لیکنو) په بکسونو کې اچول کیدل.

دالمجاهد د خپروني سرمقاله به د مولوي بشیر په قلم لیکل کیده . خبرونه به دخبرونو د منبع په ښودلو سره هرومرو یوې لنډې تبصرې سره چاپیدل. داخبار په نور ومطالبو کې دسیاسیات فرنګ، سیاسیات اروپا، مکتوب مکین، اخبار افغانستان، اخبار هند، سیاسیات عالم او سیاسیات عالم اسلام عنوانونه شامل وو.

په مومندو کې په همدې وخت په اردو، فارسي او پښتو ژبو د "شعلې" په نامه یوه بله خپرونه هم وه چې چلووونکې یې اروابناد صنوبر حسین کاکا جي وو(١٠).

## دغازیانو دمشرانو ارتباطات او چال چلند

دانګریزي استعمار په وړاندې د پښتنو قبایلو او په خاصه توګه دمومندو دغزاګانو مشري د هغو ولسي هیوادپالو مشرانو په لاس کې وه چې دسیاسي پلوه په بشپړه توګه مستقله وو او په هیڅ ډول سیاسي او تشکیلاتي ډلو ټپلو پورې تړلي نه وو. که څه هم دوی په سنتي او غیر سیاسي اسلام عقیده درلوده، او ځینو وتلو روحانیونو غزاګانو ته دخلکو په رابللو کې ستره ونده درلوده، دوی ټل دپښتونولۍ په اصولو چلند کاوه.

که څه هم د١٩١٤ م کال نه وروسته په مومندو کې دغازیانو ځینو مشرانو لکه دترنګزئیو حاجي صاحب په سیمه کې دانګریزانو دنورو مخالفینو او ځینو سیاسي او مذهبي ډلو سره اړیکې درلودې او ددوی مرستي به یې هم ترلاسه کولې، خو دوی دهیڅ ډول خاصي وارد شوې ایډیالوژۍ پیروي نه کوله. دبیلګې په توګه به دغازیانو دمشرانو دچال چلند په هکله دترنګزئیو دحاجي صاحب دهغې وینا ځینې برخې ذکر کړو چې په ١٩١٥م کال کې یې دباغ په سیمه کې دجمعې دلمانځه نه وروسته دمومندو یوې سترې جرګې ته کړیوه:

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

" اوس چي قبايلي غازيان دآزادی په جدوجهد بوخت دي، انګريزانو ددې کوښښونو د ناکامی دپاره  په توطئو پيل کړي تر څو دنيول شوي هندوستان په سيمو کي دهندوانو او مسلمانانو ترمنځ شخړې او خپل منځي جګړې پيل کړي . پدې شخړوکي دانګريزانو سياسي چل دئ.  زمونږ مقصد دانګريزانو په خلاف جهاد دئ ، ځکه چي انګريزانو مونږ غلامان کړي يو او په قبايلي سيمو هم دخپل استبداد دپنجو غزول غواړي . دلته په قبايلو کي هندوان هم اوسيږي او سکهان هم . خو دوی  زمونږ د خپلواکی په لارکي خنډ نه پيښوي . ددوی سره بايد هغه سلوک وشي دکوم چي مونږ ته اسلام اجازه راکړيده ... زه قبايلي خلکو ته وايم چي  کوم کسان چي په غزاګانو کي برخه اخلي، نو بيا دی داسلام په اصولو چال چلند کوي.  اسلام هيڅکله هم دداکي داچولو، دلوټ کولو،  ښځو اوماشومانو دتښتولو، او يا مسافرو ديرغمل نيولو  اجازه نه ورکوي  .  که اسلام مونږ ته دجهاد حکم کوي  نو دهغي په څنګ کي داحکم هم کوي چي په ښځو، ماشومانو، ناروغانو او کمزورو کسانو توره مه اوچتوی. له همدې کبله، کوم کسان چي د اسلامي احکامو خلاف کارونه کوي، هغوي داسلام ترټولو سخت دښمنان دي(١١)"

دديوبند مدرسه، په چمرکند کي ميشت هندوستاني مجاهدين، په کابل کي اوسيدونکي هندوستاني مبارزين اوسردارنصرالله خان په هغوډلو او کسانو کي شامل وو، چي دترنګزئيو حاجي صاحب  ورسره  روابط او همکاري درلوده. (١٢)

دافغانستان داستقلال د ګټلو نه وروسته دآزاد سرحد دغازيانو دتحريک سره مرسته زياته شوه .  پدې مرستو کي وسلي، کارتوس او پيسي شاملي وې .  دمولانا عبيدالله سندهي په وينا(١٣)، غازي امان الله خان به لکه د خپل  خاندان يا قام د مشرانو په شان ددوي دمشرانودرناوې کاوه،  ددوی ټولي وړاندې شوي مشوري به منل کيدې او هيڅ وړانديز به يي نه رد کيده . غازي امان الله خان د شيخ الهند دمړيني نه وروسته د هغي درنه فاتحه واخيسته  او دخپلي وينا په ترڅ کي يي وويل چي "کوم کار چي مولانا محمودالحسن پيل کړي وي، زه به يي سرته ورسوم".

**په  آزاد سرحد او خصوصاً مومندو کي  دانګريزانو په مقابل کي د پاڅونونو علتونه**

دانګريزانو مشهور صدراعظم او په دوهمه نړيواله جګړه کي ددوی مشر "وينستن چرچل" ( Winston Churchill) چي دپښتنو قبايلو سره يي دبريتانوي قواوو په جګړو کي خپله برخه آخيستي  ده، دانګريزانو په مقابل کي د مومندو دپاڅون علت  په سرحدي سيمو کي د مذهبي تعصب توفاني څپې او په مومندو او نورو سرحدي قبايلو دهغوی اغيزه ګڼي(١٤). وينستن چرچل په ١٨٩٧م کال کي دبريتانوي پوځ غړي وو. کله چي هغه واوريدل چي  دبريتانوي پوځ درې غونډه دپښتنوقبايلو سره دجګړې دپاره روانيږي، نو په دې جګړه کي يي د ګډون غوښتنه وکړه.  هغه د ملکنډ په عملياتو کي دجنرال جيفري تر قوماندې لاندې په دوهم غونډ کي وجنګيده.  هغه د مومندو په سيمه کي  ناڅاپه د پښتنو جنګياليو سره مخامخ شوي او په وخت دسکهانو د ٣٥مې قوي دمرستي په رسيدو سره ژوندي پاتي شوي وو.

 هغه ليکي چي دمومندو حالت  دسوات او نورو سيمو نه مهم او زيات توپيرونه درلودل .  مومند نه  خو زورول شوي وو او نه هم ددوی په چارو کي څه مداخله شوې وه.  نه خو ددوی په سيمه کي کوم عسکري سړک غزيدلې وو، نه هم پياوړو پوستو ددوی دښمني راپارولې  او ددوی خپلواکي تهديد کړې وه.

لويس دين چي ديوه هئيت په مشرۍ دافغانستان او بريتانوي هند ترمنځ دغلط فهميو دلرې کولو او جوړجاړي دپاره کابل ته تللي وو، عقيده درلوده چي دمومندو دپاڅون علت ددوی په سيمه باندې دانګريزانو د حملو داوازو او افواهاتو دخپريدو نتيجه وه.  خو لارد مينټو ته بيا د قبايلو د ناکرارۍ اصلي علت يوه معما ښکاريده. (١٥)

دانګريزانو په مقابل کي  په عامه توګه د آزاد سرحد د قبايلو او په خاصه توګه د مومندو د پاڅونونو ځيني علتونه په لاندې ډول ذکر کولای شو:

په سيمه کي د انګريزانو مداخله او په بيلابيلو پلمو قبايلي سيمه کي دورننوتو او يرغلونو بهانه.
دانګريزانو د وړاندې تګ د سياست په وړاندې پاڅون او مقاومت.
کابل ته د انګريزانو د هيئت تګ اود ډيورنډ دکرښي د نښه کولو خبرې او د هغې په تعقيب قبايلي سيمې ته د انګريزي مامورينو دتګ له امله دقبايلو شکمن کيدل او راپاريدل.
په کافرستان (وروسته نورستان) کي د سپه سالار غلام حيدرخان چرخي په مشرۍ دافغاني لښکر دبرياليو عملياتو نه وروسته  د خلکو داسلامي احساساتو راپاريدل او دانګريزانو د محوه کولو په تکل دجهاد دپاره دقبايلو دلمسون  په برخه کي د ملايانو د تبليغاتو  او خبرو مؤثريت.

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولـئ

د امیر عبدالرحمن خان لخوا د جهاد د کتاب خپرول او دقبایلو دا ګمان چې ګوندې امیر په رښتیا جهاد غواړي او د غازیانو مرسته به وکړي (ددی کتاب په نوم کې د تاریخ پوهانو اختلاف دئ، ځینو تقویم الدین، چا تواقیم الدین او ځینو بیا ترغیب الجهاد ذکر کړیدئ. خو دا کتاب "کلمات امیر البلاد فی الترغیب الی الجهاد" نومیږي چې د میر محمد عظیم خان په اهتمام چاپ او یوه کاپي یې د نیویارک د پوهنتون " دافغانستان دیجیتال کتابتون" کې موجوده ده).

په ملکنډ او چکدره کې د انګریزي قواوو دیره کیدل او آزادو قبایلو ته د نورو قبایلي سیمو د نیولو د اندیښنې پیدا کیدل.

په افغانستان کې د دوهمې مشروطه غوښتنې دنهضت بیا راژوندي کیدل، دسراج الاخبار دوهم ځل تاسیس، دترکانو ملاتړ او دخپلواکی غوښتنې د نهضت پیاوړتیا.

په افغانستان کې دننه دخلکو دخپلواکی غوښتنې د حس پیاوړتیا او دخلکو په نظر دانګریزانو دیوه پلوي او محافظه کاره ګوډاګي په توګه دامیر حبیب الله خان د حیثیت تیتوالي، کوم چې وروسته بې له شکه د هغې دمرګ سبب شو.

لومړی نړیواله جګړه او کابل ته دترکانو او جرمنانو دګډ هئیت راتګ.

دافغانستان او بریتانوي هند په مسلمانانو باندې دلومړۍ نړیوالې جګړې ژوره اغیزه، او ددې جګړې په موده کې د انګریزانو دکمزورتیا نه دامیر حبیب الله خان ګټه نه اخیستل، د خلکو سخت خپګان او په خاصه توګه د ترکیې د ماتي او توهین له امله دخلکو د احساساتوراپاریدل ، او دمذهبی مشرانولخوا د تُرکیې او یونان د جګړې د نتیجې نه دمسیحي قواوو په مقابل کې د مذهبي احساساتو دراپارولودپاره ګټه اخیستل .

دلوی شلمان یا کابل د سیند په غاړه د اورګاډي (ریل) د پټلۍ د غزولو د کار پیل ، کوم چې مومندو د خپلې خاورې نیول ګڼل(۱٦).

(نوربیا)

## منابع


۱ . دانګریزي استخباراتو پټ اسناد، دمې د۱۹۱۹م کال د مې دمیاشتې د۲۳مې نیټې ۷۲۰ شمیره تلګرام L/P$S/10/816; File P.1853/1919

۲ . په شیمله کې د بریتانوي هند دحکومت د سکرتر، په هندوستان کې دانګریزانو د نائب السلطنه او نظامي قواوو د قوماندان په نامه دشمال غربي سرحد د عالي کمشنر د ۱۹۱۹ کال د جون دمیاشتې د اولسمې (۱۷) نیټې ۱٦۸٤ ګڼه پټ تلګرام .

۳ . رضا، محمد افضل (۱۹۹٦) . کاروان د آزادی : دآزادی د تحریک نومورِي سرحدي غرِي . ، ۲۱٤ مخ.

٤. Afzal, Ali K (2004). The Muslim Revolutionaries and the British. Academic Press and Publishers Library, Dhaka, Bangladesh. (مسلمان انقلابیون او انګریزان)، ۲۸٤ مخ.

٥ . دلاهور څخه خپریدونکې زمیندار د ۱۹۰۳ م کال د جون په میاشت کې د مولانا سراج الدین احمد لخوا په نشراتو پیل او په ۱۹۰۹م کال کې د هغه د مرګ نه وروسته تر ۱۹۲۲ کاله پورې د هغه ځوی مولانا ظفرعلي خان خپروله .

٦ . دانګریزي ژبې کامریډ (The Comrade) د مولانا محمد علي اونیزه وه چې د لومړي ځل دپاره په ۱۹۱۲م کال کې خپره شوه . دا اونیزه په ۱۹۱٤م کال کې هغه وخت بنده شوه کله چې مولانا محمد علي او د هغه ورور مولانا شوکت علي دانګریزانو له خوا بندیان او تر ۱۹۱۹م کاله پورې په بند کې وساتل شول .

۷ . په اردو ژبه خپریدونکې الهلال اونیزه په ۱۹۱۲م کال کې دمولانا ابولکلام آزاد لخوا پیل شوه. دا اونیزه د ۱۹۱٤ کال د نوومبر په ۱٦مه نیټه د انګریزی چارواکو لخوا بنده شوه . مولانا ابولکلام آزاد په ۱۹۱٦ کال کې د البلاغ په نامه یوه بله اونیزه راوویستله کومه چې د څلورو کلونو دپاره د مولانا د بندي کیدو له کبله بنده شوه .

۸. Khalil, Jehanzeb (2000). Mujahiden Movement in Malakand & Mohmand Agencies. (دملکنډ او مهمند په ایجنسیو کې د مجاهدینو غورځنګ) ، ۱٥۲ مخ .

۹. حامد، محمد (۱۹۸۱) . سرګذشت مجاهد عبدالکریم چمرکندی . ادارهٔ مطبوعات سلیمانی ، لاهور ، ٦۸ او٦۹ مخونه.

۱۰. Khalil, Jehanzeb (2000)، ۱٥۳ مخ

۱۱ . جاوید، عزیز (۱۹۸۱). برصغیر کې تحریک آزادی کا ایک عظیم مجاهد: حاجی صاحب ترنګزئی ، ۲٥۸-۲٥۹ مخونه

۱۲ . جاوید، عزیز (۱۹۸۱) ۲۲٤مخ





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

۱۳ . هماغه ځای
۱٤ . Churchill, Winston S. (1892). The Story of the Malakand Field Force: An Episode of Frontier War. London, Leo Cooper. (دملکنډ د جګړې د ډګر قوه : دسرحد دجګړې یوه پیښه ) ، ۸۸ مخ
۱۵. Baha, Lal (1978). N.W.F.P. Administration under British Rule 1901-1919. (دانګریزانو تر حکومت لاندې دشمال مغربي سرحدی ایالت اداره)، ۷۱ -۷۲ مخونه
۱٦. Keppel, Arnold (1911). Gun Running and the Indian North-West Frontier. London. (دهندوستان په شمال مغربي سرحد کې د وسلو چلول).
۱۷. Khalil, Jehanzeb (2000). Mujahiden Movement in Malakand & Mohmand Agencies. Area Study Center, Peshawar. (دملکنډ او مهمند په ایجنسیو کې د مجاهدینو غورځنګ)، ۲۲ مخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ